## بسم الله الرحمن الرحيم

## په تدارکاتي چارو کې وزارتونو او بودجوي ادارو ته د پولي واکونو د تفويض په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله حکم

**گڼه: (۷۷۸)**

**نېټه: ۱۴/ ۳/ ۱۴۴۴ هـ.ق**

د شفافيت تامين، اغېزمنو خدمتونو وړاندي کولو، ستونزو د حل او د تدارکاتي چارو د فعاليت د تنظيم په موخه وزارتونو او بودجوي ادارو ته لاندې واکونه تفويض کېږي:

۱- د اجناسو غير مشورتي خدمتونو (هغه فعاليتونه دي چې مشورتي، د اجناسو د خريدارۍ او د ودانيزو چارو جنبه ونه لري، کرايه، د کورونو، دفترونو، وسايطو، گودامونو د اجاره کولو، ساتنه او پالنه د کار اجرت او هغو ته ورته، رانغاړي)، په تدارکاتو کې پنځه دېرش ميليونه افغانۍ.

۲- د مشورتي خدمتونو (هغه فعاليتونه

## بسم الله الرحمن الرحيم

## حکم

## عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله در مورد تفويض صلاحيت‌های پولی به وزارت‌ها و ادارات بودجوی در امور تدارکاتی

**شماره: (۷۷۸)**

**تاريخ: ۱۴/ ۳/ ۱۴۴۴ هـ.ق**

به منظور تأمين شفافيت، ارائۀ خدمات مؤثر، حل مشکلات و تنظيم فعاليت امور تدارکاتی، صلاحيت‌های ذيل به وزارت‌ها و ادارات بودجوی تفويض می‌گردد:

۱- در تدارکات خدمات غير مشورتی اجناس (فعاليت‌هايی است که جنبۀ مشورتی، خريداری اجناس و امور ساختمانی را نداشته باشد، کرايه، اجاره کردن، حفظ و مراقبت خانه‌ها، دفاتر، وسايط، گدام‌ها، اجرت کار و امثال آنرا شامل می‌شود) سی و پنج ميليون افغانی.

۲- در تدارکات خدمات مشورتی

چې تخصصي، ذهني او مشورتي ماهیت ولري او د طرح او ډیزاین، څارنې، زده کړې، تفتیش، د سافټ ویر پروګرامونو رامنځته کول، د متخصصینو نظریې او وړاندیزونه او ورته تخنیکي، مسلکي او معلوماتي خدمتونه په کې شامل دي)، په تدارکاتو کې شل میلیونه افغانۍ.

۳- د ساختماني چارو (ودانول، بیا ودانول، ویجاړول، د یوې ودانۍ له نوي سره جوړول، د ساحې چمتو کول، کېندنې، لګول (نصب)، مونتاژ، ښکلاییزې چارې او هم د هغو ضمني خدمتونو برمه کارۍ، نقشه اخیستنه، تصویر اخیستنه او ورته خدمتونه او داسې نور دي چې د قرارداد د مندرجاتو سره سم سرته رسېږي، په دې شرط چې د ضمني خدمتونو ارزښت په خپله د ودانۍ له بیې څخه زیات نه شي، هغه لرغونې ودانۍ چې تاریخي او کلتوري ارزښت لري، د دې امر څخه مستثنی دي) په تدارکاتو کې پنځوس میلیونه افغانۍ.

(فعالیت‌هایی که ماهیت تخصصی، فکری و مشورتی داشته باشد و طرح و دیزاین، نظارت، آموزش، تفتیش، ایجاد پروگرام‌های سافت ویر، نظریات و پیشنهادهای متخصصین و دیگر خدمات مشابه تخنیکی، مسلکی و معلوماتی در آن شامل می‌باشد)، بیست میلیون افغانی.

۳- در تدارکات امور ساختمانی (اعمار، احیای مجدد، تخریب، ساختن یک تعمیر جدید، آماده سازی ساحه، حفریات، نصب، مونتاژ، امور تزئینی و نیز برمه‌کاری خدمات ضمنی‌آن‌ها، نقشه‌برداری، تصویربرداری و سایر خدمات مشابه و مانند آن می‌باشد که طبق مندرجات قرارداد به سر می‌رسد، مشروط بر اینکه ارزش خدمات ضمنی آن از قیمت خود تعمیر زیاد نشود. بناهای باستانی که ارزش تاریخی و فرهنگی دارند، از این امر مستثنی می‌باشد) پنجاه میلیون افغانی.

۴- په داسې حال کې چې د وزارتونو او بودجــــوي ادارو (غیرمشـــــورتي، مشورتي او د ودانیزو چارو خـــدمتونو) تدارکات له پورتنیو مبالغو څخـــه لـــوړ وي، د تدارکاتي چارو اړوند اســـناد د بررسۍ او تصمیم نیونې په موخه د ملي تدارکاتو کمېسیون ته واستوي.

والسلام

امیرالمؤمنین شېخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

۴- در صورتی‌که تدارکات وزارت ها و ادارات بودجـــوی (غیرمشـــــورتی، مشورتی و خدمات امور ساختمانی) از مبالغ فوق بلندتر باشد، اسناد مربـــوط به امور تدارکاتی را به هدف بررسی و تصمیم‌گیری به کمیسیون تدارکات ملی ارسال نمایند.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده